# جنوبي وزيرستان؛ پر ځايي خلکو ترهګريز بريد او د خلکو سخت غبرګون

تیره شپه دسرروغۀ په مضافاتی نیشپا سیمه کې دتې تې پې خوارج ددرنو او سپکو وسلو سره په نخښه کړل چې له امله يې څلور مقامي خلک ژوبل شول. چې له امله يې د سيمې د اوسېدونکو تر منځ سخته غوسه او انديښنه راپار شوي ده.

**د تفصيلاتو له مخې، ترهګرو غوښتل چې له ګنې ګونې ځخه په استفادې د سيمې له خلکو ځخه د انساني ډهال په توګه په استفادې سره پر امنيتي ځواکونو بريد وکړي. ځايي خلک د ترهګرو په وړاندې سخت کرکه څرګندوي او په ترهګرو د فشار راوړلو لپاره جرګې جوړېږي چې له ګڼ مېشتو سيمو ځخه ووځي.**

**له بلې خوا د باوري سرچينو د معلوماتو له مخې په سيمه کې د ترهګرو د شتون، د سيمې په کورونو کې د جبري پناه اخيستو او بې ګناه خلکو ته د خطر په صورت کې امنيتي ځواکونه پلان لري چې د سيمې په نيولو سره پراخ عمليات ترسره کړي.**

خوارج د امنيتي ځواکونو په مقابل کې د بې ګناه خلکو په نښه کولو سره يو ځل بيا له خلکو سره خپله دښمني ثابته کړه. امنيتي ځواکونه او عام خلک به په ګډه کار کوي چې دا خوارج عبرتناک انجام ته ورسوي، ان شاءالله.